VERMONT
DEPARTMENT OF LABOR

# مساوي فرصت قانون دی

دا د فدرالي مالي مرستي ترلاسه کوونکي لپاره د قانون خلاف دي چي په لاندې اساساتو تبعیض وکړي: په متحده ایالاتو کي د کوم فرد خلاف د نژاد، رنګ، مذهب، جنسیت (د امیندواری، زیږون، او اړوندو طبي حالتونو، د جنسیت د دقیانوسیت، د ترانسجیندر د وضعیت، او د جنسیت د پیژندني په شمول)، ملي اصل (د انګلیسي محدود مهارت په شمول)، عمر، معیوبیت، یا سیاسي تړاو یا عقیدې پر بنسټ، یا، د ورک فورس نوښت او فرصت قانون د سرلیک I (یعني Title I of the Workforce Innovation and Opportunity Act) لاندې کوم ګټه اخیستونکي، غوښتونکي، یا یې پروګرامونو کي برخه اخیستونکي خلاف، د فرد د تابعیت د وضعیت یا WIOA Title I لخوا مالي مرسته شوي کوم پروګرام یا فعالیت کي د ګډون پر بنسټ.

ترلاسه کوونکی باید په لاندې برخو کي تبعیض ونه کړي: د دې پرېکړه کولو کي چي څوک به د WIOA Title I لخوا مالي مرسته شوي پروګرام یا فعالیت ته لاسرسی ولري؛ یا داسي پروګرام یا فعالیت کي فرصتونه برابرولو کي یا یې په اړه د کوم چا سره چلند کولو کي؛ یا د داسي یو پروګرام یا فعالیت اداره کولو، یا یې په اړه د کارموندني پرېکړې کولو کي.

د فدرالي مالي مرستي ترلاسه کونکی باید مناسب ګامونه پورته کړی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چي د معلولیت لرونکو اشخاصو سره اړیکي د نورو سره د اړیکو په څیر اغیزمني دي. دا پدې مانا ده چي د غوښتني پراساس او پرته له فرد لخوا د کوم لګښت څخه، ترلاسه کونکي اړ دي چي وړ معلولیت لرونکي اشخاصو ته مناسبه مرستندویه مرستي او خدمات چمتو کړي.

**څه باید وکړئ که تاسو باور ولرئ چي تاسو تبعیض سره مخ شوي یاست.**

که تاسو فکر کوئ چي تاسو د WIOA Title I لاندې مالي مرسته شوي یو پروګرام یا فعالیت کي تبعیض سره مخ شوي یاست، نو تاسو کولی شئ د ادعا شوي سرغړوني نېټي څخه په 180 ورځو کی دننه په لاندې اشخاصو کي د یو سره شکایت درج کړئ: د ترلاسه کوونکي د مساوي فرصت افسر (یا هغه څوک چي ترلاسه کونکي د دې مقصد لپاره ټاکلی وي)؛

**یا: د متحده ایالاتو د مدنی حقونو د مرکز ډایرکټر (Director, Civil Rights Center (CRC), U.S) د کار څانګه (Department of Labor)**
**200 Constitution Avenue NW, Room N-4123, Washington, DC 20210**
یا په برېښنایي توګه لکه څنګه چي د CRC په ویب پاڼه www.dol.gov/crc کي لارښوونه شوی.

که تاسو خپل شکایت د ترلاسه کوونکي سره ثبت کړئ، نو تاسو باید د مدني حقونو مرکز (پورته یې ادرس وګورئ) سره د خپل شکایت ثبتولو نه مخکي انتظار وکړئ تر هغه چي ترلاسه کونکی د وروستي عمل لیکلي خبرتیا درکړي، یا تر هغه چي 90 ورځي تیري شي (پدې دواړو کي چي کوم ژر وي). که چیري ترلاسه کوونکی تاسو ته ستاسو د شکایت ثبتولو په 90 ورځو کي دننه د وروستي عمل لیکلي خبرتیا در نه کړي، نو تاسو کولی شئ د دغي خبرتیا ترلاسه کولو دمخه CRC ته شکایت درج کړئ. په هرصورت، تاسو باید د خپل CRC شکایت د 90 ورځو نیټي څخه په 30 ورځو کي دننه ثبت کړئ (په بل عبارت، ستاسو خپل شکایت ترلاسه کوونکي ته سپارلو څخه په 120 ورځو کي دننه). که چیري ترلاسه کوونکي تاسو ته ستاسو د شکایت په اړه د وروستي عمل لیکلي خبرتیا درکړي، مګر تاسو له پرېکړې یا تصمیم څخه ناراضه یاست، تاسو کولی شئ CRC سره شکایت درج کړئ. تاسو باید خپل د CRC شکایت د هغه نیټي څخه د 30 ورځو کي دننه درج کړئ په کومه چي تاسو د وروستي عمل خبرتیا ترلاسه کړې ده.

د ورمونټ (Vermont) د کار څانګه یو مساوي فرصت ګمارونکی او خدمت چمتو کونکی دی. که تاسو څه معلولیت لرئ او د دې معلوماتو اړوند مرستي ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د Vermont Relay Service لپاره 1-1-7 ډایل کړئ. مهرباني وکړئ 802-828-4000 ته زنګ ووهئ او 0 تڼی فشار کړئ تر څو ستاسو د خوښي ژبي ته د ژباړې په ګډون په بدیل بڼه کي د وړیا معلوماتو غوښتنه وکړئ.